**مطبوعاتي اعلامیه**

# رسول الله صلی الله علیه وسلم مدني دولت تاسیس کړی!؟

(ژباړه)

محمود الجنید، د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۵مه د «عصري یمني دولت ته ملي لیدلوری» لپاره د لومړي وزیر د استازي په توګه وګومارل شو؛ نوموړي د لومړي ځل لپاره  سه شنبه، د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۱۹مه د ټرانسپورټ له وزیر ذکریا الشامي، د سیمه‌ییزې اداري له وزیر علي القیسي او د ملکي خدماتو له وزیر ادریس الشارجبي سره په یوه ناسته کې د «مدني دولت» اصطلاح یاده کړه، ده ټینګار وکړ: «د عالي سیاسي شورا د رییس د لارښوونو پلي کولو ته د ادارو او بنسټونو چټک غبرګون ښیي چې له اداري فساد سره مبارزې، روښتیا ډېرولو او د یوه داسې مدني دولت جوړولو لپاره د کار لېوالتیا شته چې نه پکې فساد وي او نه مفسدین». التاورا ورځپاڼه، یمن، .20/11/2019

نیږدې له یوه کال راهیسې، حوثیان د "عصري دولت" اصطلاح کاروي او خپلو پیروانو ته دا هیله ورکوي چې یوازې قراني لار د هغه دولت د تاسیس ډېره ږدي چې د اسلام پر بنسټ حکومت وکړي. دوی د ۲۰۱۹م کال د جنوري له ۲۹مې راهیسې چې د خپل لیدلوري مسوده یې خپره کړه، د مارچ تر ۲٦مې چې دغه مسوده د سیاسي شورا له لوري تصویب شوه، د «مدني دولت» د اصطلاح په اړه چوپ پاتې وو؛ ګڼو رسنیو غوره بلله چې د «عصري یا ماډرن دولت» اصطلاح وکاروي. دا لومړی ځل دی چې یو رسمي ویاند په ښکاره د مدني دولت جوړولو لپاره د حوثیانو نیت څرګندوي.

مدني دولت د غربي حکومت اصطلاح ده او هغه دولت ته وایيچې دین یې په قوانینو او مقرراتو کې ځای نه لري. دغه دولت همداراز خلک ازاد پرېږدي چې خلک د هر دین پیروي کوي ودې یې کړي او که یې نه کوي هم نه دې یې کوي. چا چې د سیاسي عالي شورا له لوری تصویب شوی لیدلوری لوستی وي، دا یې لیدلي. دا د یمن د خلکو –هغوی چې مدني دولت پرې حاکمېږي- حق دی چې حیران شي؛ ایا رسول صلی الله علیه وسلم - چې په دې وروستیو کې یې د میلاد ورځ هم ونمانځل شوه- مدینې ته په رسېدو، هغه وخت چې انصارو د عقبې په دویم تړون کې نصرت ورکړی و، مدني دولت تاسیس کړ!؟ او که یې د اسلام پر اساس دولت حاکم کړ؟

دا تاسو ته هېڅ توپیر نه کوي، یا تاسو پر دې د ګناه احساس نه کوئ چې د مدني دولت د جوړولو پلان په ربیع الاول میاشت کې، د پیغمبر صلي الله علیه وسلم له میلاد څخه څو ورځې وروسته بیانېږي!؟ تاسو د هغه صلي الله علیه وسلم نافرماني وکړه، ایا تاسو د رسول الله صلي الله علیه وسلم له لوري د دې لپاره ټاکل شوی یئ چې

په اخر وخت کې مدني دولت جوړ کړئ!؟ تاسو او تر تاسو مخکې کسان چې پر يمن يې حکومت کړی، په بدی او د الله سبحانه و تعالی د قوانينو په له پامه غورځولو کې له يو بل سره سيالي کوئ.

په اسلام کې د حکومت په اړه د الله سبحانه و تعالی اوامر ښکاره دي. هغه سبحانه و تعالی فرمايي:

**[وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ]**

**ژباړه**: «نو (اې محمد صلی الله عليه وسلم) ته د الله سبحانه و تعالی له نازل کړي قانون سره سم د دې خلکو د چارو فيصله وکړه.» [المائده: ۴۹]

الله سبحانه و تعالی همداراز فرمايي:

**[فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ]**

**ژباړه**: نو د دوی تر منځ په هغه څه حکم وکړئ چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي او کوم حق چې تا ته راغلی دی، له هغه څخه په مخ اړولو سره د هغوی د غوښتونو پيروي مه کوه. [المائده: ۴۸]

الله سبحانه و تعالی همدا راز بل ځای فرمايي:

**[فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ]**

**ژباړه**: الله سبحانه و تعالی په تاسو کې هغه خلک ښه پېژني چې يو بل څخه ځانونه پناه کوي او غلي په ځکېدو سره وځي. د رسول صلی الله عليه وسلم له حکم څخه سرغړوونکي بايد ووېرېږي چې په کومه فتنه کې ښکېل نه شي يا کوم دردناک عذاب پرې رانه شي. [النور: ٦٣]

رسول الله صلی الله عليه وسلم هم موږ ته د هغه کسانو د پيروی په اړه خبرداری راکړی چې موږ ته يې مدني دولت راوړی؛ هغه صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبرًا بِشِبرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَدَخَلْتُمُوهُ»** قالوا: اليهود والنصارى؟ قال: «**فَمَنْ؟**»

ژباړه: تاسو به د هغو قومونو لارې تعقيب کړئ چې له تاسو څخه مخکې وو، د اندازې او مساحت په اندازه پراخوالی سره (لکه د انچ په اندازه يو انچ) دومره حتی که دوی په کومه سوري ننوځي، تاسو به دوی تعقيب کړئ." موږ وويل، ای رسول الله صلی الله عليه وسلم! ايا ستاسو مطلب يهوديان او عيسويان دي؟" هغه وفرمايل: "بل څوک؟"

مدني دولت يو سيکولر دولت دی چې د الله سبحانه و تعالی په قانون او هغه څه چې هغه سبحانه و تعالی نازل کړي حکم نه کوي، دا يو بد شر او ظلم دی او د اسلام هېڅ برخه نه بلل کېږي. د دې منل، پلي کول، دعوت، غوښتل او ملاتړ ېول، ناروا دي. په اسلام کې د حکومت نظام خلافت دی، چې د لومړۍ نړيوالې جګړې په پای کې له خلکو واخيستل شو. نو موږ د يمن پر خلکو غږ کوو چې له حزب التحرير سره د خلافت د بيا تاسيس لپاره کار وکړي او هغه مدني دولت چې د غرب له لوري د ايمان او پوهې په يمن کې رامنځ ته شوی، له منځه يوسي.

## حزب التحرير-ولايه يمن مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ.ق د ربيع الاول ۳۰مه

۲۰۱۹م کال، چهارشنبه، د نومبر ۲۷مه

ګڼه: ۱۲/۱۴۴۱